مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۴/۰۴/۱۳

# ادیب

## (لنډه کیسه)

ــ واه، څومره ښه تلفظ دې وکړ! ته لوستی معلومېږې؟!

ــ ډېر درس مې ويلی نه دی. یو وخت مې د مطالعې جنون درلود، لږ و ډېر لیکل مې هم وکړل.

ــ د افسانو لیکلو هڅه دې کړې که د کیسو؟

ــ د افسانو لیکلو هڅه نه کیږي؛ افسانې خپله راجوړیږي.

افسانې مې هم چاپ شوې، څو کیسې او یو ناول هم.

ــ یوازې نثر دې لیکه؟

ــ دوه درې غمجن غزلونه مې هم لیکلي و، چې د بتانو له انځورونو او د ښکلو له لیکونو سره ورک شول.

ــ واه! دا خو ډېره ښه خبره ده؛ مګر ته دلته ولاړ یې او سوال کوې! ولې؟

لیکنه: سین ادیّب
ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ